مسیر
ورځپاڼه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
یکشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۷مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر اتمه | ٤٧٥یمه ګڼه

# د دوحې مذاکرات؛

## د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې په تړه دربدلې خبرې په رسمي توګه پيل شوې



۳

### خو ګامه د سولې تر هوکړې

۲ مخ

### نېکولاس کې: افغانستان د ۷۰یمو کلونو سوکالي او آرامي بېرته تر لاسه کولی شي

۲ مخ

### شینجیانګ ته ښه راغلاست

۳ مخ

## سیګار: امریکا په افغانستان کې له نشه يي توکو سره په مبارزه کې هېڅ لاسته راوړنه نه لري

د افغانستان د بیارغوني لپاره د امریکا سرمفتېشي ادارې یا سیګار ویلي، امریکا په افغانستان کې د نشه يي توکو پر ضد د مبارزې په برخه کې هېڅ لاسته راوړنه نه لري.

یادې ادارې د امریکا کانګرېس ته د خپل درې میاشتني راپور د وړاندې کولو پر مهال ویلي، چې امریکا له پيله تر اوسه په افغانستان کې د نشه يي توکو پر وړاندې پر مبارزه باندې نهه ملیارده ډالر لګولي دي.

د یاد راپور له مخې، په افغانستان کې له ۲۰۰۲ ز کال راهیسې، د نشه يي توکو پر ضد پر مبارزه باندې د مصرف شویو پیسو کچه ۸.۹۴ ملیاردو ډالرو ته رسېږي، خو نه یوازې دا چې د نشه يي توکو پر وړاندې جګړه بریالۍ شوې نه ده، بلکې په دغه هېواد کې د نشه يي توکو کښت او کاروبار ډېر شوی هم دی.

د راپور پر بنسټ، سره له دې چې تېر کال د وچکالیو له امله په دغه هېواد کې د کوکنارو په کښت کې کموالی راغلی دی، خو لا هم دغه هېواد د نړۍ په کچه د تریاکو تر ټولو ستر تولیدوونکی هېواد بلل کېږي.

د یادونې ده چې سپینې ماڼۍ او پنټاګون تر دې دمه د سیګار د دغه راپور په تړاو څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې د یادې ادارې ورته راپورونه رد کړي دي.

## راتلونکې دوشنبه د اسیا زړه هېوادونو په کنفرانس کې پر افغان سوله خبرې کېږي



۲ مخ

## پوهنتون


۴ مخ

### مسلم د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

د مسلم د لوړو زده کړو خصوصي موسسې اداره وايي، د محصلینو لپاره يې د کتابتون په ګډون، ټول هغه امکانات برابر کړي، چې یو پوهنتون او یا د لوړه زده کړو موسسه ورته اړتیا لري.




### په پکتیا کې د ٦.٢ میلیونو ډالرو په لګښت، د جلغوزیو د پروسس مرکز جوړېږي



یو افغان سوداګر په پکتیا ولایت کې د شاوخوا شپږو میلیونو ډالرو په لګښت، د جلغوزیو د پروسس یو مرکز جوړوي.

دا به د هېواد په سوېل- ختیځ کې د جلغوزیو د پروسس لومړنی هغه مرکز وي، چې په فعالېدو سره به پکې د زرګونو ټنو جلغوزیو د پروسس زمینه برابره شي.

دغه مرکز د حاجي محمد ګردېزي له لوري د ٦.٢ میلیونو ډالرو په لګښت سره جوړېږي. نوموړي ویلي، هڅه کوي چې د افغانستان جلغوزي د افغانستان په نامه او د پکتیا په مارک سره نړیوالو بازارونو ته وړاندې کړي.

په ورته وخت کې د پکتیا د سوداګرۍ خونې رییس عبدالنصیر علمیار ویلي چې دغه مرکز په یوه کال کې د ٦٠ زرو متریک ټنو جلغوزیو د پروسس وړتیا لري. علمیار زیاته کړې: «دغه مرکز د هېواد په دې برخه کې لومړنی مرکز دی او دا د حکومت او بزګرو لپاره یوه ستره لاسته راوړنه ده».

## کمیسیون، نامزدان و ناظران انتخابات امروز برای حل بُن‌بست نشست مشترک برگزار می‌کنند

قرار است امروز کمیسیون مستقل انتخابات، شماری از نامزدان انتخابات ریاست‌جمهوری و نهادهای دخیل در روند انتخابات نشست مشترکی را برای دریافت یک راه‌حل به این جنجال‌ها برگزار کنند.

انتظار می‌رود در حدود هفتاد تن از نماینده‌گان تیم‌های انتخاباتی، ناظران انتخابات، جامعهٔ مدنی و دیگر نهادهای دخیل در روند انتخابات، در نشست امروز شرکت کنند.

اما، برخی از تیم‌های انتخاباتی آن‌چه فراهم‌نشدن زمینهٔ پوشش زنده این نشست و نبود زمینه برای گفت‌وگو آزاد میان تیم‌های انتخاباتی و کمیسیون مستقل انتخابات می‌دانند، می‌گویند که در این نشست شرکت نخواهند کرد.

تیم انتخاباتی گلبدین حکمتیار، این نشست را نمادین می‌خواند و می‌گوید که این نشست پشت درهای بسته برگزار خواهد شد.

همایون جریر، عضو این تیم گفته است: «این جلسه یک جلسهٔ بسیار شکلی و تشریفاتی است؛ در این جلسه شرکت نمی‌کنیم».

در عین حال تیم انتخاباتی عبدالله عبدالله هم دربارهٔ چگونگی برگزاری این نشست، انتقادهایی دارد و می‌گوید که کمیسیون مستقل انتخابات به‌جای برگزاری این نشست در پشت درهای بسته بگذارد رسانه‌ها نیز در این نشت حضور داشته باشند.

یوسف رشید، رئیس بنیاد انتخابات آزاد و عادلانهٔ افغانستان نیز بیان داشت: «مواردی که دارند به‌عنوان نکات اعتراضی و استنباط از قانون و طرزالعمل، باید بسیار واضیح و روشن در حضور اشتراک کننده‌ها بیان کنند».

اورنگزیب، کمیشنر کمیسیون مستقل انتخابات می‌گوید که در این نشست رسانه‌ها حضور خواهند داشت.

در همین حال، عبدالقادر هوتخیل، ناظر انتخاباتی تیم انتخاباتی اشرف غنی می‌گوید که نماینده‌گان این تیم در این نشست شرکت خواهند کرد.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019
Shigal English Academy
شیګل انګلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com  Shigal English Academy  www.shigal.edu.af  +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریـــځ

### څو ګامه د سولې تر هوکړې

طالبانو په رسمي ډول په قطر کې له امریکایي پلاوي سره د خبرو د بیا پیلېدو پخلی کړی دی. د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي: «د اسلامي امارت مذاکراتي ټیم له امریکایي پلاوي سره خبرې له هغه ځایه پیل کړې دي، په کوم ځای چې دریدلې وې». څو ورځې وړاندې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویلي وو چې زلمی خلیلزاد به قطر ته ولاړ شي او له طالبانو سره به په رسمي ډول خبرې پیل کړي. د امریکا له اړخه داسې ښودل کېږي چې د دې خبرو هدف د تاوتریخوالي را کمول دي، خو دا د سولې لپاره د امریکا له خوا د یو شرط په توګه یادېږي.

د امریکا او طالبانو تر منځ د خبرو پیل ته د افغان سولې په برخه کې د یو مهم پرمختګ په سترګه کتل کېږي. له دې امله چې د دواړو لورو تر منځ هوکړه وروستۍ شوې او یوازې لاسلیک یې پاتې دی، نو ښایي شته خنډونه هم ژر لرې شي او هوکړه لاسلیک شي. طالبان ټینګار کوي چې د هوکړې له لاسلیک سره سم به له امریکا سره اوربند کېږي او په دې سره به اتیا سلنه جګړه ختمیږي. طالبان وایي چې شل سلنه جګړه به په بین الافغاني خبرو کې له توافق وروسته ختمیږي او یا به هم د بین الافغاني خبرو پر مهال ختمیږي. د امریکا غوښتنه بیا دا ده چې طالبان دې د هوکړې له لاسلیک وړاندې تاوتریخوالی را کم کړي او یا دې اوربند وکړي. د دواړو لورو په دریځونو کې ستر اختلاف نه ښکاري، ځکه چې که هوکړه لاسلیک کېږي، نو ښایي تر هوکړې مخکې او تر هوکړې وروسته د اوربند یا تاوتریخوالي د کمولو تر منځ یوازې څو ورځې د وخت توپیر وي. اوس کېدای شي ژر هوکړه لاسلیک شي او اوربند وشي او یا هم پر اوربند توافق وشي، عملي شي او ورسره له ځنډ پرته د دواړو لورو تر منځ د سولې هوکړه هم لاسلیک شي. دا کوم داسې لوی او جدي اختلاف نه دی چې د خبرو او د هوکړې په برخه کې دې کوم لوی خنډ جوړ کړي. که خبره یوازې د اوربند وي، نو ستونزه حل کېدونکې ده، خو که څه داسې خبرې وي چې طالبان او امریکا پرې پټې خبرې کوي او په اړه یې معلومات نه ورکوي، بیا ښایي داسې مسایل وي چې لا ډېرې چنې وغواړي او دواړه لوري زیاتو خبرو او وخت ته اړتیا ولري.

څه چې روښانه دي، هغه دا دي چې د طالبانو او امریکا تر منځ هوکړه حتمي ده. اټکل دی چې دا کار به ژر وشي، خو که وخت هم واخلي، ښایي څو میاشتې وي، خو هوکړه لاسلیک کېدونکې ده. دا د افغانستان د سولې په برخه کې مهم او اساسي پرمختګ دی. موږ له سولې څو ګامه لرې یو، اوس باید موږ افغانان د خپلمنځي خبرو، تفاهم او جوړجاړي لپاره پوره تیاری ولرو. اوس هغه وخت دی چې کینې او نفرتونه لرې کړو، یو بل ته لاس ورکړو او د اسلامي او افغاني ارزښتونو پر اساس پر یو داسې نظام هوکړه وکړو، چې موږ ته امن، عزت، سرلوړي او خپلواکي را وګرځوي.

## نېکولاس کې:

# افغانستان د ۷۰یمو کلونو سوکالي او آرامي بېرته تر لاسه کولی شي

مرکه: سپوږمۍ راډیو

ډېره مننه ښاغلی سفیر چې موږ ته مو دا فرصت برابر کړ، چې له تاسې سره د افغان سولې د بهیر په اړه مرکه وکړو.

سپوږمۍ راډیو: د ناټو اوسنی رول د سولې په خبرو کې څه دی؟

سفیر نیکولاس کې: په افغانستان کې د ناټو ماموریت د افغان ځواکونو ملاتړ دی، چې د افغان پوځ او پولیسو روزنه، هغوی ته د مشورې ورکول او له هغوی سره مرسته په کې شامل دي. موږ دغه کار د دې لپاره کوو څو ډاډ تر لاسه کړو چې افغان ځواکونه پیاوړي شوي او طالبان د جګړې په ډګر کې نه شي بریالي کېدای. له همدې کبله یوه سیاسي جوړجاړي او د سولې بهیر ته اړتیا ده. موږ مرسته کوو چې د سولې لپاره شرایط برابر شي.

- فکر کوی چې د سولې د هوکړې لپاره شرایط برابر دي؟

- زه ډېر خوشبین یم، ځکه طالبانو ویلي چې غواړي په دوحه کې بېرته د مذاکراتو مېز ته ستانه شي. د دغو مذاکراتو یوه برخه د افغان دولت او طالبانو تر منځ د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره پر یوې لارې هوکړه کول دي او دا خورا مهم ګام دی. زه فکر کوم چې طالبانو درک کړې چې د جګړې په ډګر کې یې بریا ناشونې ده، نو باید مذاکرات وکړي. دلته په افغانستان کې هم ټول افغانان سولې ته تږي دي. زه چې د هېواد هر ګوټ ته ځم، که په شمال کې وي، که په سوېل کې وي او که په ختیځ کې؛ ښځې، مدني ټولنه، ځوانان او هر څوک وایي چې همدا اوس د دې وخت دی چې جګړه پای ته ورسېږي او سوله راشي. دغه راز په سیمه کې که ازبکستان ته سفر کوم او که پاکستان، یا که د روسیې او چین له ډیپلوماټانو سره ګورم، ټول وایي، غواړي چې د افغان سولې د بهیر ملاتړ وکړي. د سولې په تړاو پیاوړي اجماع رامنځ ته شوې. اوس چې ۲۰۲۰ ز کال ته نږدې شوي یو، زه هیله‌من یم چې د جګړې د پای ته رسولو پر لور به حقیقي پرمختګ وګورو.

- د بندیانو تر بریالۍ تبادلې وروسته، څه فکر کوی چې افغانستان څومره اوربند ته نږدې شوی دی؟ ټرمپ هم افغانستان ته د خپل سفر پر مهال وویل چې طالبانو د اوربند لپاره یو څه انعطاف ښودلی دی.

- زه فکر کوم چې هر څوک غواړي او تمه لري چې په تاوتریخوالي کې کموالی راشي، ځکه تاوتریخوالی په افغانستان کې د پرمختګ، اقتصادي او ټولنیزې ودې مخه نیسي. تاوتریخوالی دغه راز د سولې په برخه کې د پرمختګ مخنیوی هم کوي. اړتیا ده چې د هېواد په کچه تاوتریخوالی په واضېح ډول راکم شي. زه باوري یم چې په تاوتریخوالي کې کموالی په دوحه کې د امریکا او طالبانو تر منځ د بحثونو برخه ده او دغه راز به د بین الافغاني خبرو مهمه برخه هم وي. که دا خبرې په بیجېنګ کې تر سره کېږي او که په جرمني یا بل هر ځای کې. خو د خبرو لپاره وخت هم لنډ دی، نو اړتیا ده چې طالبان دې د هغه تاوتریخوالي کمولو ته ژمنتیا او لېوالتیا وښیي چې پر افغانانو یې تپلي او د دې کار لپاره د ځینې واقعي نښې هم وړاندې کړي.

- که طالبان په بین الافغاني مذاکراتو کې د امارت پر بېرته راتګ د سولې لپاره د اصل شرط په توګه ټینګار وکړي، د ناټو دریځ به څه وي؟

- د سولې په خبرو کې به چې زه ډاډه یم کېږي او هیله ده چې ژر وشي، د افغانستان دولت، طالبان او د افغان ټولنې بېلابېل اقشار د مذاکراتو لپاره کېني او پرېکړه به کوي چې راتلونکی افغانستان، راتلونکی حکومت او د حکومت سیستم به څه ډول وي. دا داسې بحثونه دي چې افغانان یې باید په خپل منځ کې وکړي او په ګډه یوې پرېکړې ته ورسېږي. موږ د نړیوالو شریکانو او ملګرو په توګه اړه یو څو ډاډ تر لاسه کړو چې په خبرو کې ګډون کوونکي کسان له دې واقعیت څخه خبر دي، چې ډېری هېوادونه به له داسې افغانستان سره مرستو ته دوام ور نه شي کړلی، چې بشري حقونو ته درناوی نه کوي او ډیموکراټیک نه دی. دا دې شرایطو یا کوم ځانګړي نظر تپل نه دي، دا یوازې حقیقت او واقعیت دی. له حقوقي اړخه، ډېری هېوادونه چې د ناټو غړي هم په کې شامل دي، له داسې افغانستان سره مرسته نه شي کولی چې ډیموکراټیک نه دی او بشري حقونو ته درناوی نه کوي.

- که اوسنۍ خبرې ناکامې شي او امریکا پرېکړه کوي چې له افغانستانه خپل ځواکونه له سیاسي جوړجاړي او د سولې له هوکړې پرته وباسي، د ناټو دریځ به څه وي؟

- زه فکر کوم دا به سمه نه وي چې اوس حدس ووهل شي چې څوک به څه پرېکړه کوي. هغه څه چې ښکاره دي، هغه د امریکا ژمنتیا ده چې له طالبانو سره خبرو ته کېني او پر هغه ټرون بحثونه ورسره کوي چې په میاشتو میاشتو یې کار ورباندې کړی دی او ناټو یې بشپړ ملاتړ کوي. له طالبانو سره د امریکا ټرون به مستقیمو بین لافغاني خبرو ته زمینه برابره کړي. مستقیمو بین الافغاني خبرو ته رسېدل لومړیتوب دی او ناټو دې موخې ته د رسېدو لپاره د هر ډول هڅو ملاتړ او هرکلی کوي.

- که امریکا د ځواکونو د وتلو پرېکړه کوي، ناټو به هم ورته ګام پورته کړي او که به له افغانستان سره مرستو ته ژمنه پاتې شي؟

- ناټو د ۲۹ هېوادونو ټرون دی چېرته چې ۲۹ متحدین په ګډه پرېکړه کوي. ناټو دلته تر خپل ماموریت وړاندې په ۲۰۰۳ ز کال کې راغلې. موږ په تېر کې هم تعامل کړی او زه ډاډه یم چې په راتلونکي کې به هم د خپل حضور په اړه په ګډه پرېکړې وکړو. ناټو یو ځواکمن اتحاد دی او کارونه په یووالي تر سره کوي.

- ناټو به د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته هم د افغان ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکړي؟

- د ناټو مشرانو د لېزبن په کنفرانس کې ښکاره نظر وړاندې کړ او ویې ویل چې ناټو له افغانستان سره اوږدمهاله مشارکت غواړي، چې دوی دوامداره مشارکت ورته وایي. د دې مانا دا ده چې ناټو به د هغه څه تر سره کولو ته دوام ورکړي، چې په نړۍ کې یې له ډېرو هېوادونو سره د مشارکت لپاره کوي او په دې کې روزنه، د بنسټونو تر منځ اړیکې او که اړتیا وي ظرفیت جوړونه شامل دي. دا د ناټو دریځ او هیله ده، البته افغانستان هم باید په دې تړاو پرېکړه وکړي. موږ د دې وړاندوینه نه شو کولی چې افغانستان د سولې تر ټرون وروسته څه غواړي، خو له افغانستان سره د دوامداره مشارکت لپاره د ناټو لېوالتیا څرګنده او زموږ ژمنه ټینګه ده.

- تر سولې وروسته به په افغانستان کې د ناټو رول څه وي، یانې که افغانستان سولې ته رسېږي، ناټو به د افغانستان لپاره څه کولو ته ترجیح ورکړي؟

- لکه وړاندې مې چې وویل، ناټو له افغانستان سره دوامداره مشارکت ته ژمنه ده. زه په بشپړ ډول تمه کولی شم چې افغانستان به په امنیتي سکټور کې نړیوال ملاتړ ته اړتیا ولري. د بېلګې په ډول، د افغانستان پوځ او پولیس اوسمهال تقریباً په بشپړ ډول د ناټو په ګډون، د نړیوالې ټولنې له لوري تمویلېږي. د تمویل لپاره دغه اړتیا شاید د یو څه وخت لپاره دوام وکړي. دغه راز به د افغان پوځ او پولیسو د روزنې اړتیا هم دوام وکړي او ناټو اوسمهال د روزنې او مشورې له بهیر سره مرسته کوي. ناټو غواړي دغه کار ته په راتلونکي کې هم دوام ورکړي. دغه راز به افغانستان له طالبانو سره تر جوړجاړي او هوکړې وروسته هم ښایي له ځینو ننګونو او امنیتي ګواښونو سره مخ وي. د داعش ګواښ کېدای شي وي، دغه راز ښایي د القاعدې ګواښ هم وي او سیمه ییزې ترهګرې ډلې او د نشه یي توکو قاچاقبر هم ښایي ګواښ پېښ کړي، نو افغانستان به احتمالاً په راتلونکي کې له دغو کواښونو سره د مبارزې لپاره نړیوال ملاتړ ته اړتیا ولري.

- څه فکر کوی چې ناټو به تر سولې وروسته د افغانستان په چارو کې د سیمې د هېوادونو، په ځانګړي ډول ګاونډیو هېوادونو، د لاسوهنې د مخنیوي په برخه کې کوم رول ولوبولی شي؟

- زه فکر کوم په داسې حال کې چې موږ وړاندې ځو، دا خورا مهمه ده چې سیمه ییز هېوادونه او ګاونډیان د افغان سولې له بهیر څخه په ملاتړ کې له نږدې ښکېل شي او کله چې خبره نهایي ټرون او د سولې هوکړې ته رسېږي، سیمه ییز او ګاونډي هېوادونه باید د دغه ټرون ملاتړ کوونکي و اوسي. زه باور لرم چې دغه کار په زیاتېدونکي ډول د هر چا په ګټه دی. د سیمې، منځنۍ آسیا او سویلي آسیا راتلونکې تر ډېره په باثباته او خوندي افغانستان پورې تړلې ده، څو خلک له افغانستان سره او د هغه له لارې سوداګري وکولی شي، څو د انرژۍ اکمالات له منځنۍ آسیا سویلي آسیا او کرنیز صادرات له سویلي آسیا منځنۍ آسیا ته ورسېږي. د سیمې تر منځ اتصال د هر چا په ګټه دی او دغه اتصال په افغانستان کې په امنیت او ثبات پورې تړلی دی.

- ستاسې موخه دا ده چې د سیمې او ګاونډیو هېوادونو لپاره به اړتیا نه وي چې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه وکړي؟

- د سیمې هېوادونه به له باثباته او خپلواک افغانستان څخه د ملاتړ لپاره ډېر دلایل ولري.

- ستاسې په باور، د افغانستان د تېرو دوو لسیزو د لاسته راوړنو د خوندي کولو تر ټولو غوره لاره څه ده؟

- کله چې افغانان له طالبانو سره د مذاکرتو لپاره کېني، دې ته جدي اړتیا لري څو دا واضېح کړي چې نننی افغانستان له ۲۰ کاله وړاندې افغانستان سره چې طالبان دلته په کابل کې وو، ډېر توپیر لري. د نننی افغانستان، د هېواد ټولې برخې بدلې شوې دي. ځوانان، ښځې، رسنۍ او لوستي خلک ډیموکراسي غواړي. دوی غواړي چې د رایې ورکولو حق ولري څو خپل رهبران او دولت وټاکي. غواړي چې بشري حقونو ته یې بشپړ درناوی وشي. د مذاکراتو پر مېز به نوی افغانستان اړ وي، چې دا خپلو طالبانو ورونو ته واضېح کړي.

- تاسې کلونه کېږي چې په افغانستان کې کار کوی او د افغانستان عیني واقعیتونه درته معلوم دي، سولې ته څومره هیله‌من یاست؟

- البته، آن له کار وړاندې زه افغانستان ته په ۱۹۷٦ ز کال کې، دری کاله وړاندې له دې چې شوروي افغانستان اشغال کړي، د سیاح په توګه راغلی وم. زه اوس چې ۲۰۲۰ ز کال ته دننه کېدو په درشل کې یو، احساسوم چې ښه فرصت شته چې موږ هغه څه ته بېرته ستانه شو چې افغانستان په ۱۹۷۰ یمو کلونو کې ترې برخمن و، یانې امنیت او سوله. هغه مهال خلک آزاد وو چې د هېواد هرې برخې ته سفر وکړي، له دې وېرې پرته چې که له کوره وځي، مارکېټ یا ښوونځي ته ځي، نه پوهېږي چې بېرته به کور ته راستانه شي او که نه. زه فکر کوم چې افغانستان به یو ځل بیا هغه سوله او آرامي تر لاسه کړي.

- په پای کې کولی شی چې د افغان جګړې له اړخونو، امریکا، افغان دولت او طالبانو سره مو خپل پیغام شریک کړی؟

- زما په باور، ټول باید د اوس لپاره د افغانستان د حکومت، طالبانو او پراخې افغان ټولنې تر منځ د مستقیمو خبرو لپاره د چټکې او تر ټولو مستقیمې لارې پر پیدا کولو تمرکز وکړي. افغانان باید متحد وي، باید پر خپلو ارزښتونو او هغو اصولو ډاډه وي چې دوی یې دفاع کوي او هر ډول مذاکراتو ته له ښه ځواک او یووالي سره ولاړ شي.

- د مرکې له کبله مو مننه.

- مننه چې راغلی او له ما سره مو مرکه وکړه.

## بهرنیو چارو وزارت: راتلونکې دوشنبه د اسیا زړه هېوادونو په کنفرانس کې پر افغان سوله خبرې کېږي

بهرنیو چارو وزارت ویلي، راتلونکې دوشنبه به د ترکیې استانبول ښار د اسیا زړه هېوادونو د «استانبول پروسې» د کنفرانس کوربه وي.

ویل کېږي چې ولسمشر غني به په دغه کنفرانس کې ګډون وکړي او د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردوغان سره به یو ځای د اسیا زړه هېوادونو دغه کنفرانس پرانیزي.

بهرنیو چارو وزارت دغه راز ویلي چې تر دې کنفرانس یوه ورځ وړاندې (د ډسمبر په اتمه) به د لوړ پوړو چارواکو غونډه هم وي او پکې به د اسیا زړه هېوادونو د کنفرانس اعلامیه ترتیب کړي.




د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند زبیر جوینده امریکا غږ ته ویلي: «په دې ناسته کې د نورو ناستو په څېر ټول ګواښونه، پرمختګونه او په سیمه کې د ورځې تودې مسئلې تر څېړنې لاندې نیول کېږي. له دغو ګواښونو سره د مبارزې لپاره به نوي تعهدات وشي. د دې کنفرانس پایله به یوه نوې اعلامیه وي او قوي تعهدات به پکې وي». دغه وزارت ویلي، د افغانستان سوله به هم د دې کنفرانس د بحثونو پر محوریت کې راڅرخي.

په ورته وخت کې د سیاسي چارو پوهان وایي، چې د اسیا زړه هېوادونو کنفرانس افغان حکومت ته یوه ښه موقع ده، څو د سولې لپاره د خپل اووه ماده ییزه پلان لپاره د سیمې اجماع را خپله کړي.

د یادونې ده چې دغه کنفرانس د اسیا زړه هېوادونو (د استانبول پروسې) اتم کنفرانس دی چې دایرېږي. په دغه کنفرانس کې ۱۵ غړي، ۱٦ ملاتړي هېوادونه او ۱۲ سیمه ییز او نړیوال سازمانونه به په دغه کنفرانس کې برخه واخلي.



# شینجیانګ ته ښه راغلاست

لیکوال: شي مونګ؛ د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې مشر
ژباړن: سالار

په دې وروستیو کې د امریکا متحده ایالاتو د چین د شینجیانګ په اړه یوه لایحه تصویب کړه، چې په افغانستان کې د شینجیانګ په اړه د ځینو عامه افکارو د اندېښنې لامل شوه. د امریکا په دې کار او د نړۍ پر عامه افکارو یې اغېزې ته په پام سره، ډېری افغان دوستان داسې پوښتنه مطرح کوي: آیا په رښتیا هم هلته وضعیت همداسې دی لکه امریکا چې وایي؟ په عین وخت کې ډېری افغان دوستان ما ته وایي، چې څو څو ځلې شینجیانګ ته تللي او لیدلي یې دي چې هلته امنه، همغږې او متمدنه فضا حاکمه ده. زموږ هغه ملګري چې شینجیانګ ته یې سفر کړی وایي، چې دا یوه معلومه خبره ده چې د امریکا تبلیغات ډېر بې اساسه دي. زه په دې وروستیو کلونو کې ډېر ځله له شینجیانګ څخه د لیدنې پر مهال له افغان دوستانو سره ملګری شوی یم. د دوی دا ډېره خوښېږي چې په شینجیانګ کې د اوږدې مودې لپاره ژوند وکړي. په دې وروستیو کې په افغانستان کې د چین سفارت په ګډون، ډېری رسمي ارګانونو په دې اړه د خلکو اندېښنو او پوښتنو ته د واقعیتونو پر اساس ځواب ویلی دی. زه فکر کوم هغه کسان چې لا هم د شینجیانګ د مسئلې په اړه پوښتنه کوي، یا په دې اړه ناوړه انګېزه لري او یا یې تر اوسه شینجیانګ بیخي لیدلی نه دی او د امریکا د قوي تبلیغاتو تر اغېزې لاندې راغلي؛ زه د زړه له کومې په افغانستان کې له خپلو دوستانو څخه غواړم چې هرو مرو شینجیانګ او د چین نورو سیمو ته سفر وکړئ، څو د قناعت وړ ځواب تر لاسه کړی. زه حاضر یم چې دلته د شینجیانګ په اړه ځینې حقیقتونه له تاسو سره شریک کړم، څو له تاسې ټولو سره مرسته وکړم چې د دې ښکلې سیمې په اړه لا ډېر معلومات ولرئ.

چین یو قومي هېواد دی او د مذهبي عقیدې ازادي د چین د دولت یو اساسي رکن دی. قانون په شینجیانګ کې د ټولو قومونو د وګړو د مذهبي عقیدې د آزادۍ ساتنه کوي. په شینجیانګ کې د اویغور، هان، هوی او نورو په ګډون، د ٥٦ قومونو کابو ۲۵ میلیونه وګړي ژوند کوي چې کابو ۱۰ میلیونه یې مسلمانان دي.

آیا پوهېږئ چې په شینجیانګ کې له شلو زرو ډېر جوماتونه او نږدې دېرش زره مذهبي کارکوونکي شته؟ موږ په ډاډ سره ویلای شو چې د شینجیانګ د هر ښار، برخې او سیمې په مختلفو ځایونو کې جوماتونه شته. پر دې سربېره، په شینجیانګ کې ډېر اسلامي ښوونځي فعال دي چې د کادرونو د روزلو په برخه کې کار کوي. هر کال ډېر اسلامي کتابونه ژباړل کېږي او چاپېږي. دولت له ۱۹۹٦ ز کال څخه راپدېخوا الوتکې مؤظفې کړې چې هر کال مسلمانان د حج مراسمو ته انتقال کړي، هغوی ته طبي ضمانت او د ژباړې اسانتیاوې برابرې کړي. ځایي حکومتونه هر کال د روژې په میاشت کې په ټولو برخو کې د مذهبي ځایونو د امنیت لپاره لازم اقدامات تر سره کوي او د اختر په مناسبت بازارونو ته د اړتیا وړ شیان وړاندې کوي.

له بده مرغه په ۱۹۹۰یمو کلونو کې ځینو دښمنانو له مذهبي نوم څخه په ناسمې استفادې سره ترهګریز او سخت دریځ افکار خپاره کړل او ځینو کسانو ته یې د حقیقتونو په پټولو سره دوکه ورکړه، څو په تاوتریخجنو او ترهګریزو فعالیتونو کې ښکېل شي. دې کار د شینجیانګ ثبات او پرمختګ په جدي توګه کمزوری کړ او د شینجیانګ د ټولو قومونو د خلکو اساسي حقوق یې تر پښو لاندې کړل. یوازې د ۲۰۰۹ ز کال د جولای په پنځمه په ترهګریزو بریدونو کې له ۲۰۰۰ ډېرو بې ګناه کسانو ته مرګ ژوبله واوښته. د شینجیانګ د کوروا کې سیمې دولت له یوې خوا د بې ګناه خلکو د سر او مال او د اقتصادي پراختیا د نظم ساتنې په موخه، د ترهګرو سازمانونو د ځپلو لپاره اقدامات وکړل او په عین وخت کې یې د هغو کسانو لپاره د مسلکي او تخنیکي زده کړو مرکزونه هم پرانیستل، چې له تروریستي تفکر څخه د اغېزمنېدو له امله یې وړو جنایي جرمونو ته مخه کړې وه. یاد کسان په دغو مرکزونو کې قوانین او مقررات زده کوي، قرآن کریم په ښه توګه تفسیر کوي او دغه راز مسلکي مهارتونه زده کوي، څو وکولای شي چې په راتلونکي کې په آسانۍ سره ښه کسب پیدا کړي. د شینجیانګ ګټورو هڅو ښې پایلې درلودلې دي او په دې سیمه کې په تېرو دریو کلونو کې هېڅ تاوتریخجنه ترهګریزه پېښه نه ده رامنځ ته شوې. په ۲۰۱۸ ز کال کې له شینجیانګ څخه د افغان ډیپلوماټانو په ګډون، له ۷۰ ډېرو بهرنیو ډلو لیدنه کړې او د دې سیمې د لاسته راوړنو ډېره ستاینه کوي. بشري حقوق څه دي؟ تر ډېرو لوړ بشري حقوق د ژوند ټول حقونه، پایښت او پراختیا ده. په دې کې هېڅ شک نشته چې له تلپاتې سوله ییز چاپېریال پرته د بشر د ټولو حقونو په اړه بحث نشو کولای. ډېری افغان دوستان دا په ښه توګه احساسولای شي.

د دې پر ځای راځئ چې یوځل بیا د امریکا متحده ایالاتو ته کتنه وکړو. هماغه ډول لکه موږ ټول چې پوهېږو د امریکا په متحده ایالاتو کې د بشري حقونو وضعیت ډېر بد دی. په امریکا کې د ګرمو وسلو د پراختیا، جنسیتي او توکمیزو توپیرونو په شان د بشري حقوقو خلاف ډېر جدي موارد موجود دي، په ډېری نورو هېوادونو او سیمو کې هم د امریکا د جګړو له امله د بشري حقونو په برخه کې جدي غمیزې رامنځ ته شوې دي. امریکایي سیاستوالو تل په دې اړه چوپتیا غوره کړې، دوه ګونې سټنډرډونه یې غوره کړي او د ناوړه نیتونو پر اساس یې اقدام کړی.

زه فکر کوم چې زما افغان دوستان لا پخوا له دې سره بلد دي چې امریکا تل دوه ګونی سیاست خپل کړی چې له امله یې افغانانو زیات کړاوونه لیدلي دي.

له دې جملې څخه د شینجیانګ مسئله، په رښتیا هم چې ډېر وضاحت ته اړتیا نشته، ځکه هغه دوستان چې شینجیانګ ته تللي، نو په دې اړه به پوښتنه ونه لري، په دې اړه زه له افغان ملګرو د زړه له تله غواړم چې له شینجیانګ څخه د لیدنې فرصت پیدا کړي او دا سیمه له نږدې ووینې، نو هغه وخت به تاسو واقعي چین او واقعي شینجیانګ وپېژنئ.

# د دوحې مذاکرات؛

## د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې په ټپه دریدلې خبرې په رسمي توګه پیل شوې



د طالبانو او امریکا تر منځ په ټپه دریدلې خبرې بېرته پیل شوې دي. پرون د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځینو سرچینو رسنیو ته ویلي چې د طالبانو او امریکا تر منځ مخامخ خبرې بیا پیل شوې او تر ډېره تمرکز پر اوربند او د تاوتریخوالي پر کمولو دی. په ورته وخت کې طالب وسله والو هم منلې چې خبرې بیا ځلې پیل شوې دي او دوی تمه لري چې ژر دواړه لوري مهمو هوکړو ته ورسېږي. د سولې عالي شورا او د سولې په چارو کې د دولت وزارت هم د مذاکراتو بیا پیلېدو ته هیله مندي ښیې.

پرون شاوخوا لس بجې د طالبانو او امریکایي لوري تر منځ له درې میاشتنې ځنډ وروسته، د سولې خبرې بېرته پیل شوې. نږدې درې میاشتې وړاندې په کابل کې تر یوه ځانمرګي برید وروسته، د امریکا ولسمشر له طالبانو سره مذاکرات په دې پلمه ودرول چې ګواکې د دې ډلې په ځانمرګي برید کې امریکایي سرتېری وژل شوی دی. له دې سره جوخت داسې هڅې هم روانې وې چې د سولې خبرې بېرته پیل شي او دواړه لوري یوې هوکړې ته ورسېږي، چې له هغه وروسته طالبانو او امریکایي لوري د باور فضا د جوړولو لپاره د زندانیانو پر تبادلې هوکړه وکړه. په دې معامله کې د امریکایي پوهنتون دوه بهرني استادان د حقاني شبکې د دریو غړو د خوشې کولو په بدل کې امریکایي لوري ته وسپارل شول.

تر دې وروسته، تازه د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې په برخه کې پرمختګ شوی دی. امریکایي سرچینو تېره ورځ رسنیو ته وویل چې د دواړو لورو تر منځ مذاکرات پیل شوي دي. زلمي خلیلزاد ته نږدې سرچینو ویلي، په ټپه دریدلي مذاکرات پیل شوي او په دې مذاکراتو کې د سولې پر هوکړه او دغه راز د اوربند پر رامنځ ته کېدو بحثونه کېږي. امریکایي سرچینې وایي: ((موخه دا ده چې تاوتریخوالی راکم شي. تر ډېره تمرکز هم د تاوتریخوالي پر کمولو او اوربند باندې دی)).

بلخوا د طالبانو د قطر دفترویاند هم په یوه ټویټ کې منلې چې له امریکایي لوري سره په ټپه دریدلي مذاکرات بېرته پیل شوي دي. سهیل شاهین ویلي، دغه مذاکرات له هغه ځایه پیل شوي، چې د ټرمپ له پرېکړې سره سم دریدلي وو. د شاهین په خبره، نوي مذاکرات به د تېرو په دوام کېږي او له سره خبرې نه پیلېږي. دوی هغه هوکړې بشپړوي چې په تېرو ۹ میاشتنیو مذاکراتو کې وړاندې بحثونه شوي دي. شاهین وایي: ((نن د محترم ملا برادر اخند تر مشرۍ لاندې د اسلامي امارت مذاکراتي ټیم، د امریکې له مذاکراتي ټیم سره خبرې له هغه ځایه پیل کړې، کوم ځای کې چې دریدلې وې. د توافقنامې د لاسلیک او اړوندو موضوعاتو په هکله خبرې وشوې)).

شاهین دغه راز ویلي چې مذاکرات به دوام کوي. د ده په خبره، د هوکړې د لاسلیک او اړوندو موضوعات لپاره به نن هم د طالبانو او امریکایي لوري تر منځ مذاکرات دوام کوي.

شاهین داسې مهال د هوکړې د لاسلیک په اړه خبرې کوي چې د سولې عالي شورا غړي هم په نږدې راتلونکي کې د سولې په برخه کې د طالبانو او امریکا تر منځ د هوکړې د لاسلیک کېدو خبره کوي. د دې شورا غړی قاضي امین وقاد وایي، ډېر ژر به د امریکا او طالبانو تر منځ هوکړه لاسلیک شي او دواړه لوري به د جګړې پر درولو سره سلا شي. وقاد وایي: ((د هغې لېوالتیا په نظر کې نیولو سره چې طالبان یې سولې ته لري، هیله ده کم او زیات یوه اونۍ یا لسو ورځو کې دا هوکړه لیک لاسلیک شي. په مذاکراتو کې به اړین مراحل ژر تر سره کړي او بین الافغاني مذاکراتو ته به لاره خلاصه شي)).

په دې مذاکراتو کې د افغان حکومت له بنده ازاد شوی طالب چارواکی انس حقاني هم شامل دی. هغه تازه د طالبانو د مشرتابه د پرېکړې په اساس، د مرکچي پلاوي غړی ټاکل شوی دی. نوموړي په یوه تازه مرکه کې ویلي وو، چې سولې ته لېواله دی او د دې غوښتونکی دی چې په افغانستان کې روانه جګړه ډېره ژر ختمه شي.

بلخوا د سولې په برخه کې د دولت وزارت هم د طالبانو او امریکا تر منځ د سولې د خبرو له پیلدو خبر ورکوي. د دغه وزارت ویانده ناجیه انوري وایي چې په مذاکراتو کې باید اوربند او په پاکستان کې د طالبانو پټنځایونه په پام کې ونیول شي او دغه ډله دې سولې ته خپله رښتینې ژمنتیا وښیي.

# نړیوال قدرتونه: ایران دې له نړیوالو سره د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه سرغړونه نه کوي



د نړۍ سترو قدرتونو له تهرانه غوښتي چې له هغو اقداماتو لاس واخلي چې د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړون څخه سرغړونه ګڼل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې دغه اټومي تړون وروسته له هغې متزلزل شو، چې د امریکا متحده ایالتونو تېر کال ورڅخه په یو اړخیز ډول د وتلو او پر ایران بېرته د بندیزونو لګولو اعلان وکړ.

د واشنګټن دغو بندیزونو د ایران اقتصاد چې له مخکې هم ځپل شوی و، له پښو وغورځاوه. ایران هم د دغو بندیزونو په ځواب کې ویل چې د خپلو غني شویو یورانیمو او د درنو اوبو زېرمې یې له هغې کچې اړولې، چې په اټومي تړون کې ورته ټاکل شوې وې او ورباندې هوکړه شوې وه. په ورته وخت کې د چین په بهرنیو چارو وزارت کې د وسلو د کنټرول د ریاست عمومي رییس فو کونګ (Fu Cong) خبریالانو ته ویلي: «ایران دا واضحه کړې چې له ټولو اقداماتو په شا کېدل ممکن دي او تیار دی چې د اټومي تړون بشپړ رعایت ته مخه کړي». فو کونګ په ویانا کې د هغې غونډې په پای کې دا خبرې کړې، چې د ایران او په اټومي تړون کې د پاتې پنځو نورو پیاوړو هېوادونو چین، روسیې، برېټانیا، فرانسې او جرمني استازي پکې جرګه شوي وو.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ایران ویلي وو چې که په اقتصادي لحاظ د اړتیا وړ سهولتونو وړاندیز ورته وشي، تیار دی چې له خپلو دغو لانجمنو اقداماتو په شا شي.

د ایران استازي عباس عراقچي له یادې غونډې وروسته ویلي، ده فکر کاوه چې نړیوال قدرتونه د عملي حللارو موندلو ته لېوال دي، چې له دې سره به دوی وکولای شي له ایران سره خپلې اقتصادي همکارۍ ته دوام ورکړي. نوموړي زیاته کړې: «موږ په دغو هېوادونو کې جدیت وینو، البته چې په مخکې ستونزې او خنډونه شته».

دغه راز اروپایي هېوادونو خبرداری ورکړی که ایران په اټومي تړون کې خپل مکلفیتونه پر ځای نه کړي، هغه هېوادونه به چې په اټومي تړون کې پاتې دي، د لانجې د حل د میکانېزم په نوم یوه فقره وړاندیز کړي.

دغه میکانېزم به کرار کرار دغه موضوع د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته وړاندې کړي او پایله به یې پر ایران د هغو بندیزونو بیالګول وي، چې د اټومي تړون له مخې ورڅخه لرې کړای شوي وو. دغه څرګندونې داسې مهال دي چې له یادې غونډې مخکې برېټانیا، فرانسې او جرمني پر تهران تور لګولی و چې داسې بالېستیک توغندي جوړوي، چې اټومي سروکي لېږدولای شي، خو د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف دغه ادعا بې بنسټه بللې ده.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

درېیمه برخه

افغانستان

**نهم څپرکی**

**په لویه پکتیا کې قومونه، کمونېستان او د جهاد نسل**




د ۲۰۰۸ز کال په جنوري کې وسله وال ځانمرګي برید کوونکي په کابل سرینا هوټل ننوتل. په دې برید کې اته کسان د دوو بهرنیانو په شمول ووژل شول. دې برید لوی رواني اغېز وکړ. د کابل په زړه کې، ولسمشرۍ ماڼۍ ته څېرمه، په تر ټولو امن پنځه ستوریز هوټل برید اسانه کار نه و. حقاني د ۲۰۰۸ز د اپرېل پر ۲۷مه، د مجاهدینو د ورځې په نمانځغونډه کې پر حامد کرزي هم برید وکړ. د ۲۰۰۸ز کال د جولای پر ۷مه، په کابل کې د هند پر سفارت برید کې د یوه هندي نظامي پر ګډون پنځوس افغانان ووژل شول. د ۲۰۰۹ز کال په فبروري میاشت کې د حقاني شبکې پر ډېرو وزارتونو بریدونه وکړل، د همدې کابل په اکتوبر کې یې د ملګرو ملتونو پر یوه مېلمستون برید وکړ. په ۲۰۱۰ز کال حقاني شبکې بیا پر وزارتونو او د پوځ د جلب او جذب پر مرکز برید وکړ. دې شبکې د ۲۰۱۱ز کال په جولای کې پر کابل انټرکانټیننټل هوټل او په سپټمبر کې یې د ایساف ځواکونو پر مرکز برید وکړ.
له بریدونو ښکارېدل چې له حقاني شبکې سره د پاکستاني پوځ ټینګې اړیکې وې. د هند پر سفارت له برید وروسته نوي ډهلي او واشنګټن دواړو د پاکستان ISI تورن کړ. د امریکا د ګډو ځواکونو مشر، جنرال مایک مولن، د ۲۰۱۱ز کال په سپټمبر کې، هغه مهال چې له خپلې دندې لیرې کېده، پر ISI یې تور پورې کړ چې د ډېرې ګواښوونکو بریدونو په ځانګړي توګه په کابل کې د امریکا پر سفارت د برید تر شا د هغوی لاس و. نوموړي څرګنده کړه چې ISI او حقاني اړیکې لري، تر دې چې حقاني شبکه اوس د ISI یوه برخه یادېږي.
له حقاني شبکې سره د ISI د اړیکو څلور لسیزې بشپړېږي، خو دا اړیکې او ملاتړ د افغانستان د جګړې پر بېلابېلو څپرکو وېشل کېږي. د طالبانو د تحریک له رنګېدو وروسته پاکستان خپلې ګټې د حقاني پر لاس په افغانستان کې ساتلې دي. دې شبکې ته دنده ورکړل شوې وه چې په افغانستان کې د هند پر نفوذي ځایونو بریدونه وکړي. حقاني د لویې پکتیا قومونه هم نه پرېښودل چې د افغانستان په سیاست کې ونډه واخلي، هغوی د ډیورنډ د دواړو غاړو پر مېشتو پښتنو د ملت پالو حرکتونو پر ضد ګواښونه جوړ کړي وو. په ځانګړي توګه دې شبکې لویه پکتیا ناارامه کړې وه، نه یې پرېښودل، د دې سیمې ځوانان په ملي امنیتي ځواکونو کې ونډه واخلي. له ۱۹۹۲ز کال مخکې، د افغان پوځ له ړنګېدو وړاندې د دې سیمې ډېرو خلکو په پوځ کې پراخه برخه لرله.
د حقاني شبکې د ګواښوونکو بریدونو په اړه د امریکا د ولسمشر اوباما په اداره کې هم تاوده بحثونه راپورته شوي وو. د ۲۰۱۲ز کال د اکتوبر پر ۷مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت حقاني شبکه د یوه ترهګریز سازمان په توګه ثبت کړه. د نظر خاوندانو ویل چې له دې کار سره به دا ډله نوره هم له مذاکراتو لیرې شي او د پاکستان د شومو موخو لپاره به وکارول شي.
حقاني د افغانستان د جګړه‌ییزو ډلو په منځ کې تر ټولو ځواکمنه وه، ځکه دې ډلې پر القاعدې سربېره د پاکستاني او مرکزي اسیا له یاغي ډلو سره هم ښې او نږدې اړیکې لرلې. دا اړیکې د دې شبکې له لیکنو او رسنیزو ادبیاتو له ورایه ښکارېدې. په ۲۰۱۰ز کال سراج الدین حقاني یو کتاب خپور کړ، د دې کتاب نوم (د مجاهدینو لپاره ګټور نظامي درسونه) و. دا ۱۴۴ مخه لرونکی کتاب، په بشپړه توګه د القاعدې د روزنې د لارښود کتاب په څېر دی. په دې اثر کې د القاعدې د ستاینې تر څنګ د سر پرېکولو او ځانمرګو بریدونو د جواز بحثونه شوي. کتاب جګړه مارو ته لارښوونه کوي چې په لوېدیځ کې بریدونه وکړي.
د کتاب متن مشوره ورکوي چې سخت زړي او نه ماتېدونکي کسان باید د طالبانو د جهادي لیکو قومنداني په غاړه ولري. کتاب د اسلام د دین پر نورو اساساتو سربېره د تقوا په اړه هم بحث کوي. د القاعدې د الشهاب څانګې له لوري خپرو شوو تبلیغاتي وېډیوګانو کې د حقاني او القاعدې ترمنځ اړیکې څرګندېدې. الشهاب ډلې د ټول افغانستان په پرتله د لویې پکتیا د بریدونو وېډیوګانې ډېرې خپرولې. ځینې ځانمرګي بریدګر عربان، ترکان او یا هم د لوېدیځو هېوادونو اوسېدونکي وو.
په پاکستان کې حقاني شبکې پټن‌ځایونه لرل، هلته یې د ازبکستان د اسلامي غورځنګ او د ترکیې د جهاد د اسلامي یووالي روزنه او پالنه کوله چې په مرکزي اسیا کې بریدونه وکړي. دا اړیکې د طالبانو له لارې د افغانستان په شمال کې ازبک مېشتو سیمو ته رسېږي چېرې چې هغوی فکر کوي د ۲۰۰۲ز کال په پراخ بنسټه حکومت کې څنګ ته پاتې شوي وو. په لویه پکتیا کې د اړینو دولتي چارواکو له وژلو سره امنیت هم خراب شو.
له دې سره حقاني شبکې ته د جګړې تر څنګ د پیسو پیدا کولو زمینه هم برابره شوه. دا شبکه نه یوازې په لویه پکتیا بلکې په فاټا کې هم پر ورته سرچینو برلاسي لري. دا ډله، خلک تښتوي او پر سر یې پیسې اخلي، د نشه یي توکو کاروبار کوي او د پیسو پر بدل کې د مجرمینو ساتنه کوي. د پاکستان او خلیج هېوادونو د اېډیولوژیو او موخو لپاره کار کولو کې هم ډېرې پیسې ورکول کېږي. د حقاني کورنۍ په مشروع لارو، ځمکو، ساختماني کارونو او ټرانسپورټي چارو کې پسې بندې کړې دي. دا ډله د تورو پیسو پر سپینولو هم بوخته ده، ځکه یې په لویه پکتیا، وزیرستان، کورمه او خیبر پښتونخوا کې مشروعې سوداګرۍ پیل کړې دي.
**دوام لري...**

# مسلم د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



مسلم د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت، د خصوصي پوهنتونونو ریاست په منظورۍ، د څلورو پوهنځیو په درلودلو سره په غزني ولایت کې پر فعالیت پیل وکړ. د دې موسسې د نشراتو امر نجم الله جلالزی وایي، اوس هم دغه موسسه څلور پوهنځي (معالجوي طب، ستوماتولوژي، حقوق او سیاسي علوم او اقتصاد) لري، چې عملاً پکې محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي. دی وایي، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې دوه څانګې (قضا او څارنوالي، اداره او ډیپلوماسي) لري، اقتصاد پوهنځی یې هم دوه څانګې (مالي او بانکي، اداره او منجمنټ) لري او معالجوي طب او ستوماتولوژي پوهنځي یې هم بېلابېلې څانګې لري.
د لوړو زده کړو د دې موسسې په څلورو پوهنځیو کې اوسمهال د دریو زرو په شاوخوا کې ښځینه او نارینه محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي. ښاغلی جلالزی وایي، که څه هم چې د فعالیت یې دومره وخت نه کېږي، خو دا چې له خلکو سره کړې ژمنې یې پر وخت عملي کړې دي او په خورا لوړ کیفیت محصلینو ته خدامات وړاندې کوي، نو دغه څه د دې لامل شوي چې خلک ورباندې باور وکړي او ډېر ځوانان د لوړو زده کړو په یاده موسسه کې د زده کړو لپاره نوملیکنه وکړي. دا چې دوی خپل فعالیت په ۱۳۹۴ لمریز کال کې پیل کړی دی، نو په ۱۳۹۷ لمریز کال کې یې د لومړي ځل لپاره له حقوقو او سیاسي علومو او دغه راز اقتصاد پوهنځیو څخه لومړنۍ دوره محصلین چې شمېر یې سلو تنو ته رسېدو، د لېسانس په کچه فارغ او ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړل.
مسلم د لوړو زده کړو په موسسه کې د تدریس چارې د دوو کټه‌ګوریو استادانو له خوا چې شمېر یې ۹۰ کسانو ته رسېږي، پر مخ وړل کېږي. د دې موسسې د نشراتو امر نجم الله جلالزی وایي، دایمي استادان یې له لوړو زده کړو وزارت سره رسمي دي او دغه راز ځینې قراردادي استادان هم لري، چې یوازې خپلو درسي ساعتونو ته راځي او محصلینو ته تدریس کوي. دی وایي، د حقوقو او سیاسي علومو او دغه راز اقتصاد پوهنځیو استادان یې د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري او هغه استادان چې په معالجوي طب او ستوماتولوژۍ پوهنځیو کې پر تدریس بوخت دي، په خپل مسلک کې یې تخصص اخیستی دی.
د لوړو زده کړو دغه موسسه په کور د ننه او بهر دواړو کې له ځینو پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري. ښاغلی جلالزی وایي، په غزني ولایت، پلازمېنه کابل او ځینو نورو ولایتونو کې له دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري او کله کله خپل محصلین د وړتیاوو لوړولو او تجربې تر لاسه کولو لپاره دغو پوهنتونونو ته ور استوي. دی وایي، په کور د ننه سربېره، له هېواده بهر هم له ځینو پوهنتونونو سره په اړیکه کې دي او د موسسې د کیفیت لوړولو په برخه کې د دې پوهنتونونو له تجربو او مشورو ګټه اخلي. نوموړی وایي، غواړي په راتلونکي کې دغه اړیکې لا پراخې کړي، څو وکولای شي خپل محصلین د لا لوړو زده کړو لپاره دغو بهرنیو پوهنتونونو ته ور واستوي. دغه موسسه د ورځې په دوو وختونو کې سهار او مازدیګر محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي او ټاکلي درسي ساعتونه ورته تدریس کوي.
نجم الله جلالزی وایي، دا چې کتابتون د یوه علمي بنسټ د ملا تیر جوړوي، نو دوی هم د خپلو محصلینو د مطالعې او زده کړو لپاره د ارامې فضا تر څنګ، یو مجهز کتابتون برابر کړی چې د دریو زرو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه پکې موجود دي چې محصلین او دغه راز استادان ترې وخت ناوخت د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه اخلي. دی وایي، دا چې نړۍ د پرمختګ په حال کې ده، نو د دوی هڅه هم دا ده چې له توان سره سم خپل کتابتون لا غني کړي او بېلابېل کتابونه ورته راوړي، څو یې د خپلو محصلینو اړتیاوې پوره کړې وي. د جلالزي په خبره، د کتابتون تر څنګ یې نور ټول هغه امکانات د محصلینو په واک کې ورکړي دي، چې یو پوهنتون یا د لوړو زده کړو موسسه یې باید ولري.
د مسلم د لوړو زده کړو موسسې د نشراتو امر وایي، د هېواد او په ځانګړې توګه د غزني ولایت د خلکو اقتصادي وضعیت ته په کتو، محصلینو ته ځانګړی تخفیف ورکوي، څو وکولی شي خپلې لوړې زده کړې مخ ته یوسي. نوموړی د تحصیلي اسنادونو د ورکړې په اړه وایي، چې په ۱۳۹۷ لمریز کال کې یې لومړۍ دوره محصلین فارغ کړل او ټولو ته یې د لوړو زده کړو وزارت له خوا داسې تایید شوي اسنادونه ورکړل، چې دوی کولی شي په هېواد کې د ننه او له هېواده بهر پرې لا نورې لوړې زده کړې وکړي او یا د دندې په پیدا کولو کې ترې ګټه واخلي. دی وایي، دا چې د خصوصي پوهنتونونو شمېر ډېر دی او په وزارت کې یې د ریاست کار کوونکي کم او د محصلینو د تحصیلي اسنادونو د تایید مرحلې یو څه وخت نیسي، نو کېدای شي چې کله کله محصلینو ته د تحصیلي سندونو ورکړه یو څه ځنډنۍ شي. د هغه په خبره، موسسه یې هڅه کوي چې پر وخت د محصلینو اسنادونه لوړو زده کړو وزارت ته د تایید لپاره واستوي.
د مسلم د لوړو زده کړو موسسې اداره غواړي چې په راتلونکي کې د هېواد په نورو ولایتونو کې هم څانګې ولري او په هر اړخیزه توګه پرمختګ وکړي. د دې موسسې د نشراتو امر وایي، له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې پر خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو باندې خپل څار زیات کړي، څو هغه شکونه له منځه لاړ شي چې خلک یې د خصوصي پوهنتونونو په اړه لري. دی وایي، دا د لوړو زده کړو وزارت مسوولیت دی چې دولتي او خصوصي پوهنتونونو دواړو ته په یوه سترګه وګوري او تر څنګ یې دا چې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو په دې برخه کې نوی ګام اېښی دی، لاسنیوی یې وکړي، څو پر خپلو ښو ودرېږي او ټول هغه معیارونه پوره کړای شي چې د دغه وزارت له لوري ورته ټاکل شوي دي. په ټوله کې د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې په مرکز او ولایتونو کې خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته د دایمي ځای ځایګي غم وکړي او هر اړخیز ملاتړ یې وکړي. دغه اتحادیه وایي، لوړو زده کړو وزارت اوسمهال په یادو پوهنتونونو کې د هر ډول نویو تاسیساتو مخه نیولې ده چې دغه څه د دوی د پرمختګ په مخ کې ډېر لوی خنډ دي او نه شي کولای ان خپل لګښتونه پوره کړي. دوی له افغان حکومت څخه غواړي چې د مالیې په اخیستو کې هم ور سره ګزاره وکړي او یو څه یې را کمه کړي، څو خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې پر خپلو پښو ودرېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۵۵ |
| € | ۸٦,۷۰ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۱۰۲,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# آیا می‌توانیم شخصیت‌مان را تغییر دهیم؟

ترجمه: احمد فردوسی

اگر تابه حال درباره تغییر شخصیت خود فکر کرده‌اید، باید به شما بگوییم که تنها نیستید. تحقیقات نشان می‌دهد که همه ما کم‌وبیش مایل به پرورش خصوصیات شخصیتی مثبت (مثل خوش‌مشربی، خوش بینی و کاریزما) و کم‌کردن خصوصیات منفی (مثل بدبینی و روان رنجوری) هستیم. اما آیا واقعاً تغییر شخصیت ممکن است یا شخصیت هرکس ماهیت ثابت و تغییرناپذیری دارد؟ با ما همراه باشید.

**آیا شخصیت ثابت است؟**

میل به تغییر شخصیت بسیار رایج است. ممکن است افراد خجالتی آرزو کنند که ای کاش معاشرتی‌تر و پرحرف‌تر باشند. احتمالاً کسانی که آستانه صبرشان پایین است، آرزو می‌کنند که ای کاش می‌توانستند در موقعیت‌های بحرانی خونسردی‌شان را حفظ کنند. در زندگی هریک از ما نیز لحظاتی وجود داشته که متوجه جنبه خاصی از شخصیت‌مان شده‌ایم و درصدد تغییر آن برآمده‌ایم. حتی ممکن است برخی افراد برای خودشان هدفی مشخص کنند و سعی در از بین‌بردن صفات بالقوه مشکل‌سازشان داشته باشند. برای مثال، نزدیک سال نو که می‌شود، بسیاری از مردم هدف‌هایی برای خودشان تعیین می‌کنند که بر تغییر بخش‌هایی از شخصیت متمرکز است. مثلاً، دوست دارند مهربان‌تر، بخشنده‌تر، صبورتر یا معاشرتی‌تر شوند.

به صورت عمومی، بسیاری از متخصصان بر این عقیده‌اند که ایجاد تغییرات واقعی و پایدار روی ویژگی‌های فراگیر شخصیتی می‌تواند کاری بسیار دشوار باشد. بنابر این، اگر از یک یا چند جنبه از شخصیت تان ناراضی هستید، واقعاً می‌توانید کاری برایش انجام دهید؟ برخی متخصصان، از جمله «کارول دوک (Carol Dweck) » روان‌شناس، معتقدند که تغییر الگوی رفتاری، عادت‌ها و باورهای نهفته در سطح زیرین ویژگی‌های شخصیتی (مثل درون گرایی و سازگاری) کلید اصلی تغییر شخصیت است.

**عوامل شکل‌دهنده شخصیت**

برای درک این نکته که آیا می‌توانیم در شخصیت‌مان تغییری ایجاد کنیم، ابتدا باید بفهمیم ساختار شخصیت چیست. اینجاست که «سرشت و پرورش» وارد بازی می‌شوند. آیا رفتار ما در پیوند با عوامل وراثتی (سرشت) شکل گرفته یا محیط و یادگیری (پرورش) عوامل تعیین‌کننده شخصیت هستند؟ در گذشته، رویکرد نظریه‌پردازان و فیلسوفان اغلب یک‌طرفه بود و تنها طرفدار یکی از این دو عامل بودند. اما امروزه بیشتر متفکران با این موضوع موافق هستند که ترکیبی از هر دو عامل شخصیت نهایی ما را شکل می‌دهد.

همچنین، تعامل همیشگی میان جینتیک و محیط می‌تواند در چگونگی ابراز شخصیت اثرگذار باشد. برای‌مثال، ممکن است فردی از نظر جینتیکی مستعد داشتن رفتاری دوستانه و آرام باشد، اما کارکردن در محیطی پر از استرس او را کم‌تحمل و نگران کند. دوک داستان دو پسر دوقلوی یکسان را که از زمان تولد جدا و دور از هم بزرگ شده‌اند به این موضوع ربط می‌دهد. آنها در بزرگ‌سالی با زنانی ازدواج کردند که اسم کوچک‌شان یکی بود، سرگرمی‌های مشابه داشتند و تقریباً سطح مشابهی از ویژگی‌های شخصیتی خاص در آنها هویدا بود. این مثال‌ها مبنای این اندیشه است که شخصیت ما عمدتاً از ارادهٔ خود ما خارج است. در مطالعه‌ای که در مورد این دوقلوها انجام شد، مشخص گردید که جینتیک در مقایسه با محیط و تجربه‌های خاص ما تأثیر بسیار بیشتری دارد.

درباره نقش بسیار مهم جینتیک شکی وجود ندارد، اما بررسی‌های دیگر نیز نشان می‌دهد که تعامل تربیت و حتی فرهنگ ما با زیربنای جنتیکی موجب شکل‌گیری شخصیت ما شده است.

**تمرکز بر حد وَسطهای این دو عامل می‌تواند به فهم بهتر موضوع کمک کند**

اما دوک معتقد است که امکان تغییر شخصیت وجود دارد. ممکن است ویژگی‌های فراگیر شخصیتی در طول زندگی هر فرد ثابت بمانند، اما خصوصیت‌های «حد وسطی» شخصیت ما هستند که در زیر سطح ویژگی‌های فراگیر شخصیتی قرار گرفته‌اند و نقش مهمی در شکل‌دهی شخصیت ما دارند. باور دوک این است که برای تغییر شخصیت می‌توان کیفیت‌های حد وسطی را تغییر داد.

خُب، حالا ببینیم این اجزای حد وسطی شخصیت دقیقاً چه هستند؟

**۱. باور و نظام‌های فکری**

دوک معتقد است که باور و نظام‌های فکری، تحت مرتبهٔ ویژگی‌های فراگیر شخصیتی، نقشی مهم در شکل‌دادن به شخصیت ایفا می‌کنند. هرچند تغییر برخی جنبه‌های شخصیت می‌تواند چالش‌برانگیز باشد، اما شما می‌توانید با تغییر در برخی باورهای اساسی، روش ابراز شخصیت‌تان را کنترل کنید و شکل دهید.

**۲. استراتیژی‌های هدف و سازش**

دیگر نظریه‌پردازان معتقدند، عواملی مثل استراتیژی‌های هدف و سازش در شکل‌گیری شخصیت نقش اصلی را ایفا می‌کنند. برای‌مثال، اگر نشانه‌های شخصیت تیپ A در شما بیشتر است، می‌توانید مهارت‌های جدید سازش و مدیریت استرس را که به شما کمک می‌کنند فرد آرام‌تری شوید، یاد بگیرید.

**چرا بر باورها تمرکز کنیم؟**

چرا بر باورهای‌مان تمرکز کنیم؟ هرچند تغییر عقاید لزوماً کار آسانی به‌نظر نمی‌رسد، اما برای شروع راه مناسبی است. باورهای ما تاحدّ زیادی زندگی ما را شکل داده‌اند، از دیدگاه ما درمورد خودمان و دیگران گرفته تا عملکردمان در کارهای روزانه، کنارآمدن با چالش‌های زندگی و حتی رفتارهای تظاهرگونه ما نسبت به دیگران. اگر واقعاً بتوانیم تغییری در باورهای‌مان ایجاد کنیم، نتیجه آن بر رفتار و احتمالاً برخی جنبه‌های شخصیتی‌مان تأثیری چشمگیر خواهد داشت.

برای مثال، باورهایی که دربارهٔ خود وجود دارد (خواه ویژگی‌ها و خصوصیات شخصی ثابت باشند، خواه انعطاف‌پذیر) را در نظر بگیرید. اگر باور داشته باشید که هوش شما سطح ثابتی دارد، آنگاه برای عمیق‌تر کردن فکرتان قدمی بر نخواهید داشت. اما اگر این خصوصیات را قابل‌تغییر بدانید، احتمالاً برای گسترش و بازکردن ذهن‌تان تلاش بیشتری خواهید کرد.

شکی نیست که باورها نقش اساسی در عملکرد انسان‌ها دارند؛ اما محققان به این نتیجه رسیده‌اند که افراد می‌توانند، برای داشتن رویکردی انعطاف‌پذیرتر نسبت به ویژگی‌های شخصی‌شان، دست از باورهای‌شان بردارند. در آزمایشی، دانش‌آموزانی که متوجه شدند مغز آنها همواره در واکنش به دانش جدید ارتباطاتی تازه ایجاد می‌کند، به استادان و معلمان و معدل بالاتر بیشتر بها می‌دادند و لذت بیشتری از مدرسه می‌بردند.

تحقیق خود دوک نشان داد که تحسین کودکان چه تأثیری بر باور آن کودکان درمورد خودشان دارد. کودکانی که به‌سبب هوش‌شان تحسین می‌شوند، بیشتر تمایل دارند که درباره خصوصیات شخصی‌شان به تیوری‌هایی باور داشته باشند که حکایت از ثبوت آن ویژگی‌ها دارد. این بچه‌ها به هوش‌شان مثل یک ویژگی تغییرناپذیر نگاه می‌کنند. شما یا باهوش هستید یا نیستید. ازطرف دیگر، بچه‌هایی که برای «تلاش» شان تحسین شده‌اند، معمولاً هوش‌شان را تغییرپذیر می‌دانند. بچه‌هایی که در تحقیق دوک شرکت کردند تمایل بیشتری داشتند که در مواجهه با مشکلات پایدار بمانند و نسبت به یادگیری مشتاق‌تر بودند.

**برای تغییر شخصیت چه کاری می‌توان انجام داد؟**

از یک فرد درون‌گرا به یک فرد بیرون‌گرا تبدیل‌شدن می‌تواند کاری بسیار دشوار (یا حتی غیرممکن) باشد، اما متخصصان معتقدند با انجام‌دادن برخی کارها می‌توان تغییراتی واقعی و پایدار در شخصیت ایجاد کرد.

**۱. تمرکز روی تغییر عادت‌ها**

روان‌شناسان به این نتیجه رسیده‌اند که کسانی که جنبه‌های شخصیتی مثبت (مثل مهربانی و صداقت) را از خود بروز می‌دهند در وجودشان واکنش‌های همیشگی‌ای شکل داده‌اند که پایدار مانده‌اند. «عادت» قابل‌یادگیری است. بنابراین، تغییردادن واکنش‌های همیشگی‌تان در طی زمان یکی از راه‌هایی است که موجب تغییر شخصیت شما نیز خواهد شد. قطعاً، صورت‌بخشیدن به عادت‌های جدید یا کنارگذاشتن عادت‌های قدیمی هرگز کار ساده‌ای نیست و به زمان و تلاش جدی نیاز دارد. با تمرین کافی، این الگوهای جدید رفتاری خیلی زود درونی خواهند شد.

**۲. تغییر باورهای خود**

اگر باور داشته باشید که تغییر نمی‌کنید، پس هیچ تغییری نخواهید کرد. اگر سعی می‌کنید بیشتر معاشرت کنید، اما باور دارید که درون‌گرایی‌تان یک ویژگی تغییرناپذیر، همیشگی و ثابت است، بنابر این هرگز اجتماعی‌تر نخواهید شد. اما اگر معتقد باشید که ویژگی‌های شخصی‌تان قابل‌تغییر هستند، احتمالاً برای اجتماعی شدن تلاش خواهید کرد.

**۳. تمرکز روی روند کار**

بررسی‌های دوک همیشه نشان داده که ستایش «تلاش« به‌جای «توانایی» بسیار ضروری است. به‌جای فکرهایی مثل «من خیلی باهوشم» یا «من خیلی بااستعدادم»، جملاتی مثل «من واقعاً سخت کار کردم» یا «من یک روش عالی برای حل مشکل پیدا کردم» را جایگزین کنید. با تغییر جهت به سمت طرز فکر رشد (growth mindset) به‌جای طرز فکر ثابت، متوجه خواهید شد که تجربه‌کردن تغییرات واقعی و رشد در شما راحت‌تر خواهند بود.

**سخن پایانی**

تغییر شخصیت کار ساده‌ای نیست، و شاید تغییر برخی ابعاد شخصیتی هرگز به‌صورت کامل میسر نشود. اما محققان بر این باورند که راه‌هایی برای تغییر بخش‌های مشخصی از شخصیت وجود دارد. می‌توان با بازی، فکر یا عملکردهای روزانه در جنبه‌هایی که زیر این لایه‌های ابعاد شخصیتی وجود دارد، تغییرهای حقیقی به‌وجود آورد.

## د هوایي چلند اداره: هڅه کوو چې د افغان هوايي شرکتونو نومونه له تور لېسته وباسو

د ملکي هوایي چلند اداري ویلي، هڅې يې پیل کړې چې افغان هوايي شرکتونه له تور لېست څخه و ایستل شي.

دا په داسې حال کې ده چې د ډسمبر اوومه(تېره ورځ) د ملکي هوايي چلند له نړیوالې ورځې سره برابره وه.

د ملکي هوايي چلند اداري ویلي، دا ورځ د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې هم ونمانځل شوه.

د دغې ادارې د مطبوعاتو غړي شیرشاه شریفي ازادي راډیو ته ویلي، له تور لېسته د افغان هوايي شرکتونو د ایستلو چارې يې پیل کړې دي.

هغه ویلي: «د نړیوالې هوانوردۍ سازمان له لوري د ډسمبر په دویمه یو تفتیش پیل شوی، چې د همدې میاشتې تر ۱۹مې به دوام وکړي، هدف يې له تور لېست نه د افغان هوايي شرکتونو اریانا او کام ایر د ایستلو مسئلې څېړل دي، د افغانستان هڅه دا ده چې دغه شرکتونه له تور لېست نه ژر وایستل شي».

یادې ادارې ویلي چې دا مهال یوازې افغان هوايي شرکتونه انقرې، استانبول، دوبۍ، هند او ځینو نورو هېوادونو ته پروازونه لري.

د دغې ادارې چارواکي زیاتوي، چې په راتلونکي پسرلي کې به د اریانا افغان هوايي شرکت په اډانه کې، باختر هوايي شرکت هم فعالیت پیل کړي.

شریفي زیاته کړې چې په ۲۴ ساعتونو کې د افغانستان پر هوايي حریم ۳۰۰ الوتکې تګ راتګ کوي، چې په هر پرواز افغانستان ته ۷۰۰ ډالره ټکس راځي.

افغان حکومت ویلي چې د هوايي حریم د بیې د لوړولو لپاره دوې اونۍ وړاندې افغان پلاوی دوبۍ ته تللی و او د نړیوالې هوانوردۍ له سازمان سره يې په دې تړاو خبرې کړې، چې په نږدې راتلونکي کې به دغه بیه ۹۵۰ امریکايي ډالرو ته لوړه شي.

په ورته وخت کې د اقتصادي چارو افغان کارپوهان له تور لېسته د افغان هوايي شرکتونو د نومونو ایستل او د هوايي حریم فیس لوړېدل ښه زېرى بولي.

د دغو کارپوهانو له ډلې عبدالقادر جیلاني د عوایدو راټولولو پر سم مدیریت د ټینګار تر څنګ ازادي راډیو ته ویلي: «حکومت دې نه یوازې د عوایدو راټولولو لپاره یو منظم سیسټم رامنځ ته کړي، بلکې د ښه مدیریت لپاره دې مسلکي او وړ کسان په دنده وګوماري». جیلاني زیاته کړې، افغان هوايي شرکتونه باید نړیوال معیارونه مراعات کړي، چې له تور لېسته له ممکنه وتنې وروسته دغه شرکتونه یوځل بیا دغه لېست ته ولاړ نه شي.

د یادونې ده چې افغان هوايي شرکتونه په ۲۰۱۰ ز کال کې په تور لېست کې شامل او اروپا ته له پرواز کولو منعه شول.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




یکشنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ ۱۷مه | د ۲۰۱۹ د ډسمبر اتمه | ۴۷۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ۲۱ | ۱۹ | ۱۵ | ۲۲ | ۲۰ |
| ۰ | ۹ | ٦ | ٤ | ۷ | ٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۷ | لمر ختل ۰٦:٤٥ | ماسپښین ۱۱:٤٥ | مازیګر ۰۲:۲۵ | ماښام ۰٤:٤۳ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ



نړیوال قدرتونه: ایران دې له نړیوالو سره د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه سرغړونه نه کوي ۳

## امریکا په عراق کې د وروستیو لاریونونو پر دریو عراقي څېړونکو بندیزونه لګولي دي



امریکا په عراق کې د وروستیو لاریونونو او له ایران سره د اړیکو په تور، د عراقي ملېشه وو پر دریو مشرانو بندیزونه لګولي دي.

امریکا ویلي چې پر دوی دغه بندیزونه په عراق کې د وروستیو اعتراضونو په ظالمانه ځپلو کې د همکارۍ د ادعا له کبله لګول شوي دي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیال سکرتر ډېوېډ شېنکر خبریالانو ته ویلي: «د امریکا متحده ایالتونه پر دریو عراقیانو، په عراق کې د سوله ییزو اعتراض کوونکو په ظالمانه ځپلو کې د دخالت، د اداري فساد او رشوت د هڅې له کبله بندیز لګوي».

دا اعلان په داسې حال کې شوی چې د عراق په پلازمېنه بغداد کې د تازه تاوتریخوالي په پېښه کې لږ تر لږه ۱۲ تنه وژل شوي دي.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو په یوه اعلامیه کې ویلي، د عراق خلک ببرته له خپل حکومت څخه واقعي اصلاحات او له باور وړ رهبرانو حساب کتاب غواړي، چې د عراق ملي ګټې ورته لومړیتوب لري.

دا په داسې حال کې ده چې زرګونه عراقیان د اکتوبر له لومړیو د دغه هېواد پلازمېنې بغداد او د جنوب د شیعه مېشتو سیمو لارو کوڅو ته په اعتراض راوتلي دي.

دوی وایي، د کار غوښتنه لري، په عراق کې د پراخ اداري فساد ختمېدل او د ټولنیزو خدمتونو ښه کېدل غواړي.

د دغو لاریونونو پر مهال چې په پایله کې یې د دغه هېواد لومړی وزیر عادل عبدالمهدي استعفا ته اړ کړ، شاوخوا ٤۳۰ کسان وژل شوي دي.

## روسیه: د امریکا وروستي بندیزونه بې ځوابه نه پرېږدو



د روسیې بهرنیو چارو وزارت پر څو روسي افرادو او شرکتونو د امریکا وروستیو بندیزونو ته په غبرګون کې ویلي، چې مسکو به د واشنګټن دا بندیزونه بې ځوابه پرې نږدي.

دا په داسې حال کې ده چې امریکا د تېرې پنجشنبې په ورځ پر یوه روسي شرکت او دغه راز ۱۷ نورو کسانو چې پر سایبري جرمونو تورن وو، بندیزونه لګولي دي. د روسیې د بهرنیو چارو وزارت د امریکا دغه اقدام ته په غبرګون کې ویلي چې که امریکا په دې اړه شواهد لرلی، نو لومړی یې باید د دوو هېوادونو د متقابلو اړیکو او همکاریو له مخې، د دغه هېواد اړوندو ارګانونو ته د هغوی په اړه شکایت کړی وای، خو دا چې دوی وار له مخه بندیزونه ولګول، دا د دې ښکارندویي کوي چې واشنګټن نه غواړي له دوی سره ډیپلوماټیکې اړیکې وپالي او یا هم نه پوهېږي.

د یاد وزارت د خپرې شوې خبرپاڼې په حواله، د امریکا وروستی اقدام د جرمونو پر وړاندې مبارزه نه، بلکې پر روسیې یو بل تبلیغاتي برید دی چې بې ځوابه به پاتې نه شي.

د امریکا دغه اقدام داسې مهال دی چې تر دې وړاندې هم دغه هېواد پر روسیې له اوکراین څخه د کرېمیا ټاپووزمې د جلا کولو او د امریکا په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې د لاسوهنې په تړاو سخت بندیزونه لګولي دي.

## حقوق دانان: اجازهٔ دایمی به سفرهای بیرونی سرپرست وزارت مالیه خلاف قانون است



حقوق دانان اجازهٔ دایمی به سفرهای بیرونی سرپرست وزارت مالیه با مصارف آنرا، خلاف قانون می دانند. این در حالی است که گفته می شود قیومی، کمتر در کابل و بیشتر در بیرون از کشور می باشد.

اما وزارت مالیه، در حالیکه اطلاعات لازم در مورد سفرهای همایون قیومی به بیرون از کشور را نمی دهد، بودن قیومی بیشتر در بیرون از کشور را رد می کند و می گوید که حکم اشرف غنی رئیس جمهور در مورد اجازه دادن به سفرهای وی خلاف قانون نه؛ بلکه برای سهولت در طی مراحل اداری این چنین سفرها بوده است.


قیومی که همزمان سرپرست وزارت مالیه و نیز مشاور بلند پایهٔ رئیس جمهور است، در هفتم قوس سال روان در پیشنهادی به ریاست جمهوری نوشته است: «با توجه به گسترش تدریجی روابط اقتصادی افغانستان و کشورهای متحابه و تامین آن از طریق ایجاد کمیسیون های دو جانبهٔ اقتصادی و سایر اجلاس های مهم کاری، ایجاب می نماید تا بنا بر درک و اهمیت تداوم این روابط ، غرض اشتراک در جلسات کمیسیون های فوق الذکر، شخصاً این جانب وقتاً فوقتاً عازم کشورهای خارجی گردم. بدین وسیله مراتب حضور مقام عالی احتراماً عرض گردید. متمنی است تا اجازه دایمی سفر بنده را به خارج از کشور با اجرای تمام مصارف بودوباش به شمول تکت رفت و برگشت آن، هدایت فرموده امتنان بخشند». رئیس جمهور کشور این پیشنهاد را منظور کرده است. حقوق دانان، این اقدام را سخت نکوهش می کنند.

نصرالله ستانکزی استاد پوهنځی حقوق و علوم سیاسی پوهنتون کابل، در مورد به آژانس خبری پژواک گفته است که در این حکم، قانون نقض شده است.

گل الرحمن قاضی رئیس پیشین کمیسیون نظارت بر قانون اساسی، نیز حکم یادشده رئیس جمهور را فراقانونی و ناشی از خودکامگی و فرا مسئولیتی رئیس جمهور می داند.

## ژوند

## څنګه له زکام څخه ځان وژغورو؟



د یخې هوا له راتلو سره سم یا د ژمي له موسم څخه وړاندې زیاتره وګړي پر زکام، تبې او ستوني دردونو د اخته کېدو له کبله اندېښمن وي، چې زیاتره د دوی پر ورځني ژوند او فعالیتونو اغېز کوي. د دې د مخنیوي لپاره ځینې داسې اسانه لارې شته چې له اندېښنې مو خلاصولی شي:

په منظم ډول لاسونه پرېمنځل

په یخه هوا کې پر زکام د اخته کېدو لاملونه بېلابېل وایرسونه دي، چې د ککړتیا له کبله رامنځ ته کیږي او له یوه څخه بل ته انتقالیږي. دغه ککړتیا د انسان لاسونو ته د دروازې د لاستو او په بېلابېلو داسې شیزونو لاس لګولو له امله چې په عامه ځایونو کې استعمالیږي، رسیږي. له همدې کبله پوهان په پرله پسې ډول د لاسونو پرېمنځلو سپارښتنه کوي.

تمرین کول

تمرین یا ورزش کول په ځانګړي ډول په پاکه او ازاده هوا کې د زکام د مخنیوي بې سارې درملنه ده، خو په زکام له اخته کېدو وروسته له تمرین سره احتیاط پکار دی، ځکه چې بدن استراحت او ارام ته اړتیا لري. ډاکټران وایي چې د زکام، تبې یا ستوني دردونو درملنه که په سمه توګه او پر وخت ونه شي، ممکن د جدي ناروغیو لامل شي، شوني ده وګړي د زړه، نمونیا، غوږونو او سینې بغل له انفیکشن سره مخ شي.

## لومړني ګام اخیستونکي تاسو اوسئ




په ژوند کې د بریا یو راز دا دی چې په تاسې پورې د اړوندو مسوولیتونو پر وړاندې تر هر چا مخکې اقدام وکړئ. د سرعت مینوال اوسئ. پایلې باید درته اړینې وي. د هغې جملې په اړه خبرې کوم چې کلینټ ایسټووډ د بېسټ لایف په مقاله کې لیکلې وه، هغه ویلي وو: «ځینې وخت باید د ښو پایلو د لاسته راوړلو لپاره په خپله خپل کارونه تر سره کړئ». په رښتیا هم چې همداسې ده.

د کار لپاره ټیم جوړ کړئ او په ګډه کار وکړئ. بلې، تاسو هم ځان ور سره شریک کړئ. کارونه هغه چا ته وسپارئ چې توان یې ولري، البته هغه وخت چې تاسې ترې عاجز وی. خو کله چې نور د دې لپاره په تمه وي، څو یو بل څوک لومړی ګام واخلي، تاسو هغه کس اوسئ چې لومړنی ګام اخلي. دا کار د عمل کولو لپاره جرئت دی. په حقیقت کې دا ستاسو لپاره له ژوند څخه په سمه توګه ګټه اخیستل دي. دا یو ډول مشرې او ځانګړې اوسېدو لپاره ستاسې د ټینګار او تاکید کولو ښکارندویي کوي. بیا هم وایم، کله چې نور د دې لپاره په تمه وي څو یو بل څوک لومړی ګام واخلي، تاسو هغه کس اوسئ چې لومړنی ګام اخلي.